# د جګړې اړوند توقیفیانو سره چلند:

## د شکنجې د منځه وړلو په وړاندې د افغانستان د ملي پلان تطبیق

دافغانستان لپاره دملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

د بشري حقونو لپاره دملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ دفتر

اپریل ۲۰۱۷ کال

کابل - افغانستان

# د راپور لنډيز

په يو سوليز، دوامداره او عادلانه راتلونکی کی چی مونږ يی د جوړولو په لټه کی يو شنکجه ځای نلری. راځی چی په ګډه د شکنجی د ختمولو په وړاندی، د خلکو ساتنی او د شکنجه کونکو عدالت ته د راوستلو اړوند هیڅ راز هڅي ونه سپمو.

(د ملګرو ملتونو عمومي منشي)1

دغه راپور چی د جګړی اړونده توقيفيانو سره چلند: د شکنجی د له منځه وړلو لپاره د افغانستان د ملي پلان پلی کولو، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوي (يوناما) او د بشری حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمشنری دفتر (او ايچ سی ايچ آر) له خوا چمتو شوی، او د هغه مرکو موندنو څخه چی د جګړی اړوند توقيفيانو سره د ۲۰۱۵ کال د جنوری د اول څخه تر ۲۰۱۶ کال د ډيسمبر تر ۳۱ پوری شوی درج کړی.

نوموړی راپور دغه موندنی د يوناما/ د بشری حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمشنرئ دفتر د مخکنيو موندنو او خپاره شويو راپورونه سره پرتله کوی، او د شکنجی د له منځه وړلو لپاره د ملي پلان کوم چی د ۲۰۱۵ کال د فبروری په مياشت کی نافذ شوي د افغان حکومت د تطبيق ارزونه کوي.

په افغانستان کې دبشري حقونو د محافظت او ترويج په موخه، د حکومت او ديوناما/ د بشری حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمشنرئ دفتر ترمنځ دروانو رغنيزو هڅو په لړ کې دغه راپور مخکي له خپريدو دحکومت (افغان حکومت) سره شريک شوی وو. دغه راپور ته دحکومت ځواب ځلورمه شميره ضميمه ده.[2]

يوناما د دولت ټولی هغه هڅی منی چی د جګړی اړوند توقيفيانو سره د چلند انديښنی را پارولی وی، او ټول هغه ګامونه چی د ۲۰۱۵ کال د ملي پلان د عملی کيدلو اړوند يی اخيستی. په ځانګړی توګه د قانون تصويب، د پاليسو جوړول، او د قانون پلی کولو او امنيتی حالاتو په چوکاټ کی د داخلی بشری حقونو د نظارت لپاره د پرمختيايی ميکانيزمونو وده ورکول دی.

که څه هم، سربيره د حکومت د ټولو هڅو چی د ملي پلان د عملی کولو اړوند يی کړی چی په بشپړه توګه د يوناما لخوا يی ملاتړ شوی، خو اوسني راپور کی بيا هم د جګړی اړوند توقيفيانو سره په مکرره توګه د ناوړه چلند راپورونه درج شوي، په خاصه توګه د تحقيق په ترڅ کی، او د غه ډول اعمالو په وړاندي د حساب ورکوني نشتون.

د شکنجی او نور ظالمانه، غير انسانی او يا له سپکاوی ډک چلند ممانعت د نړيوال قوانون يو عرفی نورم دی، او د افغانستان د قانون په چوکاټ کی دا ډول کړني په ښکاره ډول جرم ګڼل کيږی. ددی روښانه قانونی ممانعت سره سره ددغه راپور جوړونی په موده کی يوناما د جګړی اړوند د ډيرو توقيفيانو سره مرکی کړی، او په هغوی د شوو شکنجو اړوند د اعتبار وړ اسناد په لاس ورکړی، او يا له نورو ډولونو ظالمانه، غير انساني او له سپکاوي ډک چلند سره په هغو توقيف خونو مخامخ شوي چی د ملي امنيت رياست، ملي پوليسو او يا د افغان ملي دفاعی او امنيتي ځواکونو[3] له لوري په هيواد کی اداره کيدل.

---

[1]دشکنجی ضد کنوانسيون د ديرشمی کليزی په هکله د عمومی منشي پيغام. ۲۰۱۴ کال د نومبر ۴ جينيوا
http://www.ohchr.org/en/NewsEvents/Pages/DisplayNews.aspx?NewsID=15268&LangID=E#sthash.R9MB84l1.dpufhttp://www.ohchr.org/en/NewsEvents/Pages/DisplayNews.aspx?NewsID=15268&LangID=E#sthash.R9MB84l1.dpuf. Accessed 16 April 2017.

[2] . په افغانستان کي د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی (يوناما) او د ملګرو ملتونو د عالي کميشنرئ د بشري حقونو دفتر د منازعي اړوند توقيفيانو سره د چلند کلني راپور ته د افغانستان د اسلامي جمهوريت ځواب ، د شکنجي د له منځه وړلو د افغانستان د ملي پلان پلي کول.

[3] د افغان ملي دفاعی او امنيتی ځواکونو کلمه يو عمومي کلمه ده چی پدی کی افغان ملي پوليس، افغان ملي سرحدي ځواکونه، افغان سيمه ايز پوليس، د افغان د عامه نظم پوليس، افغان ملي اردو او د ملي امنيت رياست شامل دي.

لکه څرنګه چې د خپلو دریو پخوانیو راپورونو په شکل چې د بشری حقونو او د توقیف خونو ارزوني وي، یوناما د خپل نظارت تمرکز په هغه توقیف خونو درلوده چې په افغانستان[4] کې د رواني وسله والي جګړې په تړاوو د جرمونو د پوښتني لاندی وی.

پدی راپور کی دا ندی په ګوته شوي چې د جګړی د توقیفیانو سره د نیولو په وخت کی څنګه چلند شوی، بوازی په هغه چلند تمرکز کوی کله چې توقیفی د ملي پولیسو، ملي امنیت او یا د ملي اردو نږدې مرکزونو ته چې ددوی د کنټرول په ساحه کی دی انتقال شوی، چیرته چې توقیفي د توقیف د چارواکو د بشپړ کنټرول لاندې وه.

په ډیرو قضیو کی چې د توقیفیانو سره مرکی شوی، ویلی دی چې هغوی ځکه شکنجه شوی ترڅو په زوره تری اعتراف واخیستل شی. او له کومه وخته یې چې اعتراف کړی او یا هم ګوته ولږولی نو شکنجې پرې بندی شوی. پدی مرکو کی زیاترو ویلی چې دوی نه پوهیدل چې په اعتراف خط کی څه لیکل شوی وو. او تقریباً ټولو دا خبره کړی چې د اعتراف کولو تر وخته، دوی مدافع وکیل ته لاس رسی نه درلوده.

باید یادونه وشی چې یوناما داسی څه ندی موندلی چې په توقیفیانو دې له افغان ملي دفاعی او امنیتی ځواکونو د توقیف خونو وروسته په هغه تأسیساتو کی چې د کورنیو چارو وزارت[5] د مرکزی بندیخانی د ریاست لخوا اداره کیږی شکنجه یا ناوړه چلند ورسره شوی وي.

لکه څرنګه چې په بین المللی قوانیونو کی ذکر شوی، دغه راپور د هاغو اعمالو چې شکنجه کونکي دي، د هاغو اعمالو سره چې ظالمانه، غیر انساني او توهینونکي چلند یا سزا تر منځ کوم توپیر نکوی. دواړه ډول اعمال (د شکنجې او نورور ظالمانه غیر انساني او توهینوکي چلند یا جزا په وړاندی د ملګرو ملتونو کنوانسیون) او همدارنګه د بشری حقونو د نړیوالو تړونونو چې افغانستان منلی منع شوي. سربیره پردي، په عمل کی د ناوړه چلندونو او شکنجو ترمنځ توپیر[6] تر زیاته اندازه واضح نده، خو تجربې ښيي چې هغه حالات چې ناوړه چلند ته ضمینه برابروی په مکرره توګه شکنجې ته لاره هواروی، نو له همدی امله هاغه ګامونه چې د شکنجې د مخنیوی لپاره اخیستل کیږی باید د هر نوعه ناوړه چلند د مخنیوی[7] لپاره واخیستل شی.

نړیوالو قوانینو ته په کتو، یوناما د هیڅ یو انفرادی قضیه لپاره د شکنجې او یا بل ډول ظالمانه غیر انسانی یا له سپکاوی ډک چلندونو تعریف نکوي، او نه پدی لټه کی دی چې جنایی عدلی سیستم ته بدیل وټاکی. یوناما د توقیف خونو د څارنې د پروګرام لپاره دداسی میتودونو څخه کار اخلی کوم چې په نړیواله کچه د بشری حقونو د څارنی د میتودونو سره برابر دی. ترڅو د موجوده شکنجو، ظالمانه او غیر انسانی او یا له سپکاوی ډکو چلندونو په اړه معتبر او اطمینانی[8]معلومات را برابر کړی. د راپور موندنې د حکومت سره پدی خاطر شریکیږی چې تشویق شی تر څو د شکنجو د منع او مخنیوی په وړاندی خپلی ژمنی تطبیق کړی. په هغه ځاینو کی ددی ټول چلندونو تورونه موجود وی خپلواکه، نا پیلی او باوری څیړنی ترسره کړی، او قربانیانو ته مناسب جبران ورکړی.

کومې موندنې چې پدی راپور کی وړاندی شوی، د هاغو مرکو پر بنسټ دی چې د یوناما د بشری حقونو د کارکونکی له لورې ۲۰۱۵ کال د اول د جنوری څخه تر ۲۰۱۶ کال د ډیسمبر تر ۳۱ پوری د افغانستان ۲۹ ولایتونو[9] په ۶۲ توقیف

---

[4] هغه توقیفیان چې د جګړی اړوند جرمونو باندی مشکوک دی په عمومي توګه د دولت په وړاندی د جرمونو مرتکبین دی، چې د ۱۹۷۶ د جزا د قانون لاندی راځی په کوم کی چې د بهرنیو چارو خارجی امنیت په وړاندې جرمونو او د داخلی امنیت ضد جرمونو فصلونه شامل دي. د افغانستان دیموکراتیک جمهوریت په ۱۹۸۷ کال د جزا قانون د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت د داخلی او بهرنی امنیت پر ضد په کوم کی چې د وژنی تور، د چاودنی عمل، د وسلوالو تالان، او د ښمنی پالونی شامل دي. او د ۲۰۱۸ کال د تروریزم ضد قانون چې تروریستي جرمونه تعریفوی، د چاودیدونکو او یا نورو وژنکو موادو استعمال، د یو تروریستی سازمان غړیتوب، په نړیواله کچه د خوندي اشخاصو په وړاندي جرمونه او یا داسی نور عملونه. یوناما د ډیرو توقیفیانو سره مرکي کړي چې دوي په کومو جرمونو تورن شوي لا خبر هم نه وو، چې دوي په عمومی توګه د افغانستان د حکومت په ضد ولسوال بغاوت کړي او یا یی حمایه کړي، او یا هم ددولت ضد مخالیفنو لکه طالبانو سره غړي وه.

[5]پدی راپور کی د شکنجې او یا نور ناوړه چلندو په باره د کورنیو چارو وزارت په توقیف خونو کی د 169 توقیفیانو له جملی څخه هیچا سره هم مرکه نده شوي (که د محاکمې څخه مخکې یا وروسته له محاکمی) ددوی په ځایونو کی.

[6]"شکنجه" د "ظالمانه، غیر انسانی او له سپکاوی ډک چلند" شدید حالت دی، خو د ناوړه چلند د دغو مختلف ډولونو تر منځ توپیر په هر قضیه کی په حالاتو پوری اړه لري (او په ځانګړې ډول خپله قربانی شوي زیانمن)، او د دواړو کټګوریو د هدف تر منځ د توپیر عنصر روښانه نه ده.

[7]د شکنجې پر ضد کمیټه، عمومی تبصره شمیره 2 ( "د امریکا ګوندونو له خوا د 2 مادی تطبیق")، CAT / C / GC / 2

[8]پدی راپور کی یوناما د توقیف ځاینو د څارنې په مهال د معیاری 'معتبره او د اطمنان وړ' معلوماتو د ریښتیا والي په هکله د (میتادولوژی) په برخه کی په تفصیل سره تشریح کړی.

[9]د ۱ ضمیمه وګورئ، دا د هغه توقیف خونو لست دی چې د یوناما له خوا تر لیدنه شوي.

خونو کې ۴۶۹ د جګړې اروند توقیفیانو سره ترسره شوی. د دغو ۴۶۹ توقیفیانو له ډلی څخه ۳۷۸ بالغ نارینه، ۶ بالغی ښځې[10] او ۸۵ د اتلس څخه کم عمره ماشومان وو[11].

ددی لپاره چې توقیفیانو په وړاندی د شکنجې او ناوړه چلند د منع د اقداماتو د تطبیق ارزونه وشی، نو یوناما همدارنګه د افغان ملي پولیسو، د ملي امنیت کارکونکو، د افغان ملی اردو، د زندانونو مسؤلینو، قاضیانو، څارنوالانو، مدافع وکیلانو، د دولت طبي پرسونلو او نورو مربوطه ارګانونو سره مرکې کړې.

ددی دوو کلنو د څارنې په ترڅ کې چې پدې راپور کې تر پوښښ لاندی راغلی، د هغه توقیفیانو سره چې مرکې شوي، یوناما موندلي چې( ۴۶۹ څخه ۱۸۱ توقیفیانو) چې ۳۹٪ کیږی، د اطمینان وړ او معتبری مرکی ورکړې چې پر دوي د افغان ملي دفاعی او امنیتی ځواکونو په توقیف خونو کی شکنجې، غیر انساني او یا له سپکاوی ډک چلندونه شوی. ۳۱ تنو داسی راپورونه ورکړی چې پدوی شکنجه یا نور ناوړه چلندونه د یو څخه په زیاتو توقیفونو کی شوی. کچیری د یوناما ۲۰۱۵ کال راپور د مخکنی راپور چې د ۲۰۱۳ کال د اول د فبرورۍ څخه د ۲۰۱۴ د ډیسمبر میاشت پوری وو مقایسه کړو په کوم کی چې ۳۵٪ توقیفیانو معتبره او اطمیناني اسناد د شکنجې او نورو مختلفو ډولونو ناوړه چلندونو په اړوند یی وړاندی کړی وه. یوناما اندیښنه لري چې په اوسنی راپور کی د ۲۰۱۰ کال راهیسي د جګړې د توقیفیانو په وړاندی تر ټولو زیاته پیمانه شکنجې او نور ناوړه چلندونه د ملي پولیسو په توقیف خونو کی درج کړی.

هغه موندنی چې پدې راپور کی تیاري شوي، د یوناما د هاغه راپورونو سره چې په ۲۰۱۱ ، ۲۰۱۳ او ۲۰۱۵ کالونو کې خپاره شوی په مکمله توګه سمون خوري. دا ټول راپورونه دا په ګوته کوی چې د هیواد په کچه [12]د جګړې توقیفیانو سره د ملي امنیت او افغان ملي پولیسو په توقیف خونو کی په لوړ تناسب د شکنجې، ظالمانه، غیر انسانی او د سپکاوی ډک چلندونه کیږی.

پدې راپور کی دا هم مستند شوي چې د هاغو ماشومانو سره چې د امنیت اړوند په تور نیول شوی، شکنجې او ناوړه چلندونه شوي، د هغه ۸۵ ماشومانو چې مرکی ورسره شوي ۳۸ تنو او٪۴۵) د اعتبار وړ مرکي ورکړې چې د دوی سره د افغان ملي دفاعی او امنیتی ځواکونو په توقیف خونو کی شکنجې او نور ناوړه چلندونه شوی.

یوناما پداسی حال کی شواهد ترلاسه کړی چې د افغان ملي اردو له لوری هم شکنجې او نور ناوړه چلندونه ترسره شوي (په شمول د افغان ملي توقیف خوني چې په پروان ولایت کی دی، او د دفاع وزارت له لوري اداره کیږی). د شکنجې او نورو ناوړه چلندونو تورونه په ډیره پیمانه د ملي پولیسو او ملي امنیت په توقیف خونو کی راپور شوي.

د شکنجې او ناوړه چلندونو هغه ډولونه چې یوناما ته تشریح شوی، شامل دي: په بدن سخت وهل (په لښتو، پلاستیکی پایپ او کیبل، د پښو په تل وهل، د تناسلی آلی په شمول برقی شارټونو ورکول، تر اوږدی مودی پوری د مټو په زور ساه بندونه، د پلاستیکی کڅوړی پواسطه، او د ابو د احتجاب لریوالی، د شکنجې او ناوړه چلندونو نور ډولونه: لکه د تناسلی آلی تاوول، د سګریټ لایټر له لاري د پښو د تلو سځول، د اوږد مودي لپاره د فشار لاندي ساتل، بی خوبه کول، جنسی تیری، او د اعدام ګواښونه).

---

[10] دغه راپور د جګړې اړونده توقیفیانو سره د چلند په ځانګړې توګه سروکار لري. په عمومي توګه، ښځي او نجوني د جګړې اړونده جرمونو کی نه نیول شوی او نه توقیف شوي. د افغانستان په زندانونو کی زیاتره بندي شوی ښځي او انجوني د عرفي او شرعی قانون څخه په سرغړونو او یا په اخلاقي جرمونو محکوم شوي دي. ددې راپور لپاره د څارنې په ترڅ کې چې ترسره شوې، یوناما د هاغو شپږو ښځ، او یوی انجلی سره مرکی کړی چې د ملي امنیت په همدی مرکز کی وی، که څه هم هیڅ یو د دوي نه په جرم تورن شوي نه وي. د توقیف خونو د چاروکو له لوري هیڅ ناوړه چلند راپور شوي نه وو، او نه هم یوناما د ښځو سره د مرکی په جریان کی د ناوړه چلند کومی نښی کتلي او یا ترلاسه کړی. په افغانستان کی ښځینه توقیفیانی پدسی شرایطو کې چې (په ډیرو مواردو کې د هغوي سره خپل ماشومان) ساتل کیږی، چی دا یوه پراخه موضوع ده چې د دې راپور له حدودو څخه بهر ده.

[11] ۸۴ هلکان او یوه انجلۍ

[12] څرنګه چې یوناما په 2010 کال کې د جګړې اړوند توقیفیانو سیستماتیکه څارنه پیل کړه، او د د امنیت په تور د 2218 توقیفیان سره یی مرکه وکړه، چی د ۹۱۰ توقیفیانو نه چی ۴۱٪ کیږی داسی معتبره او د اطمینان وړ اسناد تر لاسه کړل چی افغان امنیتی ځواکونه د شکنجې او د نورو ناوړه چلندونو مرتکب شوي دی.

## د ملي امنيت رياست[13]

ددغه راپور په موده کي يوناما د ملي امنيت په توقيف خونو کی د توقيفيانو سره د ناوړه چلند او شکنجی اړوند معتبر او اطميناني معلومات تر لاسه کړي. د هاغو ۳۶۹ مرکو چی د ملي امنيت د رياست په توقيف خونو کی ترسره شوي، ۱۰۶ تنو چی( ٪۲۹ )کيږی په مرکو کي داسی ښودلي چی پدوی باندی شکنجی او يا نور ناوړه چلندونه ترسره شوي. دا د يوناما د ۲۰۱۵ کال د موندنو سره مطابقت لري، لکه څرنګه چی ٪۲۶ مرکو دا جوته کړی وه چی د ملي امنيت په توقيف خونو کی د ورته چلند[14]سره مخ شوي.

د يوناما څارني دا په ګوته کوی چی د کندهار، فراه، هرات، ننګرهار او کابل د ملي امنيت په توقيف خونو کی په سيستماتيک[15] او يا قاعده[16] توګه د شکنجو څخه کار اخيستل شوي. ددی ترڅنګ د کافی او معتبرو اسنادو په درلودلو سره د ۱۷ نورو ولايتونو په ملي امنيت توقيف خونو کی شکنجی ترسره شوي.

په کندهار کی د ملي امنيت د رياست لخوا د توقيفيانو سره چلند ستره اندېښنه ده. ددغه راپور جوړونی په موده کی د يوناما موندنی ښيی چی ٪۶۰ د هغو توقيفيانو چی مرکی ورسره شوي د اعتبار وړ مرکي ورکړی، د ولايتی ملي امنيت رياست له لوري پر دوي هاغه شکنجی او يا بل ډول ناوړه چلندونه شوي چی د بين المللي قانون خلاف دي. د نوموړو شکنجو په اړه انديښنی مونږ يو ځل بيا هغو سيستماتيکو شکنجو او ناوړه چلندونو ته بيايی کوم چی د کندهار ملي امنيت رياست لخوا شوي وي او د يوناما ۲۰۱۲/۲۰۱۱ په راپورونو کی درج شوي وي. همدارنګه يوناما د فراه د ملي امنيت رياست د توقيف خونی اړوند کوم مثبت تغير ندی ليدلی.

او داسی معلومات يی درج کړی چی د نوموړی رياست په توقيفيانو باندی په تدريجی ډول شکنجی او نور ناوړه چلندونه د اعتراف اخيستلو لپاره پری شوي. د ملي امنيت د څو سره سره چی د نړيوالو مرستنديو ادارو په مرسته يی د داخلي نظارت د ميکانزمونو د ښه والي لپاره يی کړی په ځانګړی توګه د جنډر او د بشر د حقونو د رياست له لاري، اما تر اوسه هم د ملي امنيت په رياست کی د معافيت کلتور پراخ پاتی ده د هغه اشخاصو په مقابل کی چی د شکنجو او نورو ناوړه چلندونو په تورونو تورن دی. پداسی حال کی چی دغه تورونه د ملي امنيت د داخلی نظارت د طرز العملونو له لاري هم تأييد شوی وه، خو مرتکبين يی يوازی د اداری بنديزونو سره مخ شوي وو.

يوناما د دی راپور جوړولو په موده کی داسی کومه قضيه نده درج کړی چی د ملي امنيت کوم کارکونکی ته د شکنجی په تور سزا ورکول شوی وي. که څه هم يوناما د يوی قضی په هکله معلومات لري چی د باميان په ولايت کی د ملي امنيت دوه کارکونکی چی د محجوزين اصلاح مرکز کی د يو توقيفی سره د ناوړه چلند په تور نيول شوي وو، او پدی خاطر څارونوالي ته معرفی شوي وو، چی د خپلو صلاحيتونو او واک څخه يی ناوړه استفاده[17] کړی وه.

---

[13]د ملي امنيت رياست د قانون د مسؤليتونو نه تر لاسه کيږی، چی د ملي امنيت رياست مسؤليتونه شامل دی له "د ملي امنيت د ټينګښت" او د ترهګری په وړاندې جګړه چی د ملي امنيت د ريس لخوا اداره کيږی، او په مستقيمه توګه د افغانستان ولسمشر ته رپوټ ورکوي. د ملي امنيت رياست د ټولو استخباراتو او معلوماتو په راټولو په شمول د بهرنيو استخباراتو، جاسوسی ضد، د ترهګرۍ ضد او د ملي امنيت اړوند د ټولو نورو مسايل مسؤليت لری.

[14] د ۲۰۱۳ کال د فبرورۍ او د ۲۰۱۴ کال د ډيسمبر د مياشتو په موده کی يوناما د ۶۱۱ هغو توقيفيانو سره چی د ملي امنيت په رياست کی وه مرکي کړی چی ۱۶۱ تنو باندي چی ٪۲۶ جوړيږی شکنجه او ناوړه چلندونه شوی.

[15]يوناما دا استدلال نکوی چی د شکنجی استعمال په هغه مرکزونو کی چی پدی راپور يا نورو راپورونو کی ذکر شوي د دولت تګلاره ده، څنګه چی شکنجه او ناوړه چلندونه په سيستماتيک شکل دی لکه ٪۵۰ يا زياتو توقيفيانو داسی معتبر او باوري معلومات ورکړی چی د شکنجی او نورو ناوړه چلندونو سره مخ شوي. يوناما دا ارزوي که ٪۵۰ يا زيات د جګړی اړوند شکنجی او اړوند ناوړه چلندونه په يو ځانګړی مرکز کی راپور شي نو زيات امکان لری چی دغه شکنجه او ناوړه چلندونه د يو څو محدودو کارکونکو کار نه بلکه د هغه مرکز ځانګړی يا قاعده پاليسی او کړنلاره منعکس کوی، او د مرکز ريسان او تحقيق کونکی بايد خبر وی چی شکنجی او يا نورو ناوړه چلندونو د منع امر کړی وي. (د ميتودولوژی برخه وګوری).

[16]هغه توقيف خوني چی پدی راپور کی ورته اشاره شوی يو د دريو څخه يی يعنی ٪۳۳ توقيفيانو معتبر او د اطمينان وړ معلومات ورکړی چی پدوی باندی شکنجی او يا ناوړه چلندونه شوي.

[17]تورن کسان ابتدايی محکمي بی ګناه ثابت کړه په ۴ د جنوری ۲۰۱۷ او ددی لپاره د ايستناف غوښتنه ونه شوه.

## افغان ملي پولیس[18]

د ۲۰۱۵ کال د جنوری او د ۲۰۱۶ کال د دیسمبر ترمنځ د ۱۷۲ توقیفیانو څخه ۷۷ هغه توقیفیانو چې ٪۴۵ کیږی د افغان ملي پولیسو او افغان ملي سرحدی پولیسو په توقیف خونو کی وه، پدوی باندی د شکنجو او نورو ناوړه چلندونو په هکله د اعتبار وړ راپوروونه ورکړی.

د پخوانیو راپورونو په مقایسه د پولیسو په توقیف خونو کی په شکنجی او نورو ناوړه چلندونو کی د هیواد په کچه ٪۱۴ زیاتوالی راغلي چی دا پام وړ او دردوونکی زیاتوالی دی.

یوناما سره ځانګړی اندیښنه دادی چی هغه ۷۷ کسانو چی د افغان ملي پولیسو په توقیف خونو کی د شکنجو او د ناوړه چلندونو په هکله د اعتبار وړ مرکي کړي، په هغو کی ۲۰ کسه چی( ٪۲۶ کیږی) د ۱۸ کلو څخه کم عمره هلکان دی. او دغه ټولو ۲۰ نفرو دا خبره کړی چی دوی ځکه شکنجه شوی چی اعتراف تر اوخلي.

د افغان ملي پولیسو له لوري د ناوړه چلند زیاتی قضیې په کندهار کی درج شوي، پدی ولایت کی ٪۹۱ توقیفیانو په خپلو مرکو کی داسی د اعتبار او منلو وړ مرکی کړي چی پر دوي ډیر بی رحمه شکنجی او ناوړه چلندونه شوی. یوناما د کندهار د توقیفیانو څخه داسی مرکي ترلاسه کړی چی ددوی په معده کی په زوره اوبه پمپ شوي، او د خپلو تناسلی آلو څخه تړل شوي، تناسلی آلی تر فشار لاندی راوستي او همدارنګه زندۍ شوي هم دی.

ددغه راپور جوړوني په موده کی د کندهار په افغان ملي پولیسو داسی تورونه هم شته چی بعضی کسان چی دوي پري د مخالیفینو شک کړی وو بدون د محکمی څخه وژلي او یو تعداد نور نیول شوی کسان نادرکه شوی دی.

یوناما همدارنګه ددی راپور جوړولو په موده کی په ګوته کړی چی د ننګرهار ولایت د افغان ملي پولیس په توقیف خونو کی په توقیفیانو باندي ناوړه چلندونه زیات شوي. پدغه توقیف خونو کی د ۲۲ مرکو څخه یي ۱۲ تنو (چی ٪۵۴ )جوړیږی داسی د اعتبار وړ اسناد وړاندی کړي چی د شکنجی او یا نورو ناوړه چلندو سره مخ شوي. د کندهار او ننګرهار ملي پولیسو د شکنجو او ناوړه چلندو سربیره، یوناما په ۲۰ نورو ولایاتو کی د سرغړونی معلومات درج کړي، په خاصه توګه په هرات او فراه ولایتونو کی د ملي پولیسو لخوا د توقیفیانو سره ناوړه چلندونه شوي.

ددی راپور په موده کی د ملي پولیسو په وړاندي د شکنجی او ناوړه چلندونو په هکله، دداخلی نظارت میکانیزمونو دومره پرمختګ نه وو کړی. د بیلګی په توګه ددغه راپور په موده کی د کورنیو چارو وزارت د بشری حقونو فرعی ریاست لخوا د افغان ملي پولیس یوه قضیه چی د شکنجی او ناوړه چلندونو په تور وه څارنوالي ته د تحقیق لپاره ولیږل شوه، خو دوی بیا یوه نشول چی څارنوالی څه اقدام[19]وکړ.

د ۲۰۱۷ کال د اپریل په میاشت کي دولت یوناما ته یو نوم لړ ورکړ چی د۲۰۱۵ کال جولاي او د ۲۰۱۷ کال د جنورۍ ترمنځ موده کي افغان ملي پولیسو یو لړ جنایي کړني لکه قتل، جنسی تیری، جبري ودونه، او نور فزیکي حملو په وړاندي د عدلي تعقیب لاندی راغلی چی ددغه قضیو څخه ۴ قضیی په توقیف خونو کی د وهلو او ټکولو دی چی دا هم د دولت په کټګوري کی شکنجه حسابیږی. د نوموړو قضیو حالت لا څرګند ندي، خو حکومت موافقه کړي چی د عدلي تعقیب[20] د پایلو په اړه به معلومات برابروی.

[18]د ملي امنیت د ریاست ترڅنګ افغان ملي پولیس په هیواد کی د قانون پلی کونکي دی، د جرم د کشف کولو او د مجرمینیو د نیولو واک لري، ددغه صلاحیتونو له لاري افغان ملي پولیس کولای شی چی ټول هغه افراد چی د جزا قانون تر چتر لاندي جرم کړی وی پیدا او و پوښتی په شمول د هغه جرمونو چی په وسلوالی جګړی پوری مربوط دي. او دغه قضیی څارنوالۍ ته د لا زیاتو تحقیقونو لپاره ور ورلیږی. افغان ملي سرحدي پولیس کورنیو چارو وزارت برخه ده چی دوی د قانون په پلې کولو کی یو بل مخ کښ ارګان ده چی وظیفه یی د هیواد څخه د وتلو او را وتلو کنټرول تر څنګ د افغانستان د ځمکی د پولو ساتل هم دي.

[19]د کورنیو چارو وزارت د بشر د حقونو د فرعي ریاست څخه لیک، د فبروري 2017.

[20]د یوناما غونډه د دولت د استازي سره، 17 اپریل 2017.

یوناما معلومات لري چې دوه افغان ملي پولیس کارکونکی پدی تور د عدلي تعقیب لاندي راغلی وو چې دوه هلکان یې د دایکندی ولایت د نیلي ښار د محجوزین اصلاح مرکز کی وهلي وه. تورنو کسانو ته لومړی محکمی برائت ورکړی وو او څارنوال استناف غوښتنه نده کړی[21].

## افغان سیمیز پولیس

یوناما د ۲۰۱۵ کال د اول جنوري نه د ۲۰۱۶ کال د ډیسمبر میاشت پوري ۳۷ هاغو توقیفیانو سره مرکی کړي چې مخکی لدي چې باصلاحیته حقوقی چارواکو ته وسپارل شی د سیمیزو پولیس[22]و سره توقیف[23] وه، د نوموړو مرکو څخه ۲۲ کسانو (چې ٪۵۹ کیږی) داسی ویلي چې دوي د سیمییزو پولیسو څخه د نیولو په وخت او د نیولو سمدستي وروسته شدید وهل شوي. د ۲۲ نفرو څخه ۱۹ تنو د پولیسو داسی کړنو ته اشاره کړی چې پر دوي باندي یی کړی وو چې باید د نیولو په وخت د چا سره ونشي، او په شکنجو کی شمیرل کیږی. د ذکر شوو نفرو څخه ۳ تنو یی داسی څرګندوني کړی چې دوي د سیمییزو پولیسو لخوا پدی خاطر وهل شو چې اعتراف تري واخلی.

نوموړی پیښی په ۱۲ ولایاتو کی ترسره شوی چې: ننګرهار، بغلان، کنړ، بدخشان، بلخ، فاریاب، لغمان، پکتیکا، پکتیا، سرپل، کندز او تخار دی.

د ۲۰۱۷ کال د اپریل په میاشت کی دولت یوناما ته د ۳۲ پیښنو نوم لړ ورکړ چې دغه پیښي د ۲۰۱۴ کال د اګسټ میاشت نه تر ۲۰۱۷ کال جنوری میاشتی پوري سیمییز پولیس د غلا، قتل، شکنجو، او جنسی تیریو په هڅو د کړنو په مقابل کی د عدلي تعقیب لاندي راغلي. حکومت ۵ قضیی لدي قضیو څخه کټګوری کړي چې د شکنجو تورونو په توګه شامل دي.

د نوموړو قضیو حالت لا څرګند نده، خو حکومت موافقه کړی چې یوناما ته به د عدلي تعقیب[24] د پایلو معلومات ورکوي.

## افغان ملي اردو

د ۲۰۱۵ کال د جنوری اول او ۲۰۱۶ کال د ډیسمبر ۳۱ په موده کی یوناما ۱۹ هاغو توقیفیانو سره مرکي کړي مخکی لدي چې د ملي د پولیسو او امینت ملي ریاست[25] ته انتقال شی، د ملي اردو سره په مختلفو ځاینو[26] کی ساتل کیدل. ددغو توقیفیانو څخه ۸ تنو د اعتبار وړ راپورونه ورکړی چې د ملي اردو په توقیف خونو[27] کي پري شکنجی او ناوړه چلندونه شوي.

سربیره پردی یوناما ۲۴ هاغو زندانیانو سره چې د ۲۰۱۵ کال جنوری او ۲۰۱۶ کال ډیسمبر په وختونو کی د پروان ولایت د ملي توقیف په مرکز کی چې د افغان ملي اردو لخوا اداره کیده مرکي کړي. ددی په پام کی نیولو سره چې دغه بندیان یا محکوم بندیان دی او یا هم د محاکمی څخه مخکی بندیان چې تحقیقونه یی بشپړ شوي د اعتراف اخیستلو لپاره پري ډیری شکنجی او ظلمونه شوی نه وو، که څه هم ۴ بندیانو د اعتبار وړ معلومات ورکړی چې د افغان ملي اردو ساتونکو لخوا پری شکنجی او ناوړه چلندونه شوي.

همدارنګه یوناما داسی د اعتبار وړ معلومات راټول کړی چې داسی ښکاری چې د افغان ملي اردو له لوري د تاوتریخوالي او تهدید عملونه په خپل سر ترسره کړي، چې په هغه کی شامل دی، وهل ټکول، په ابو کی د سر غوپه کول. او اندیښنی

---

[21]په دایکنډي کی د یوناما غونده د ولایتي څارنوال، د مارچ 2017 کال

[22]سیمه ییز پولیس په محلي توګه ملېشه استخدام او د کورنیو چارو د وزارت د واک لاندي فعالیت کوي.

[23]سیمه ییز پولیس د هر ډول شکمنو کسانو د نیولو صلاحیت لري، خو اړ دي چې په چټکه توګه د ملي پولیسو یا ملي امنیت ته وسپاري.

[24]د ۲۰۱۷ کال د آپریل په ۱۷ د دولت استازو سره د یوناما لیدنه

[25]په دغه نمونه کی هغه توقیفیان ندی شامل چې د پروان ولایت د افغانستان د ملي توقیف مرکز کی د افغان ملي اردو لخوا اداره کیدل، هغه پدی راپوری کی په ځانګړی شکل لیکل شوي.

[26] یوناما د بادغیس، بغلان، فراه، هرات، کابل او کندهار ولایاتونو کی د افغان ملی اردو په مرکزونو کی د جګړی اړوند توقیفیانو باندی شکنجو او ناوړه چلندنو په هکله د اعتبار وړ تورونه درج کړي

[27]ټول هغه د شکنجو او ناوړه چلندونو قضیی چې د افغان ملي اردو لخوا شوی د ۲۰۱۶ کال د جنوریٔ د اول څخه مخکی دی، او دا باید څرګنده چې د ملي اردو داخلی راپور ورکونی او حساب ورکونی میکانزمونو صرف دوه ملی اردو کارکونکی د عدلي تعقیب لاندی راغلی البته ددغه راپور په موده کی.

راپورته شوی چی په پروان ولایت کی د افغانستان د ملي توقیف مرکز مسؤلینو په توقیفیانو باندی په شیوه پدی خاطر فزیکی تاوتریخوالی او تهدیدونه کړی چی ګواکی د مرکز نظم ساتي.

د ۲۰۱۷ کال د آپریل په میاشت کی دولت یوناما ته د ۲۲ تنو هاغه افغان ملي اردو یو غیر اړخیز نوم لړ ورکړی چی پدی کی د ۲۰۱۳ کال د فبروۍ میاشتی څخه په جدی جرمونو لکه جنسي تیری[28]، برید کول، او د محکمي پرته د یو چا وژل محکومیدل پکی شامل وه.

## د شکنجي د منځه وړلو په وړاندي د ملي پلان تطبیق

د ۲۰۱۵ کال د فبروری په میاشت کی د توقیفیان د چلند اړوند د یوناما/ د بشری حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمشنرۍ دفتر د راپور په جواب کی دولت د شکنجی د منځه وړلو لپاره ملي پلان صادر کړ. پدغه ملي پلان کی ددولت لخوا روښانه ژمني شوي چی دوی به د شکنجی له منځه وړلو لپاره په قانون، ظرفیت لوړولو او مخنیوی تدابیرو په برخه به خاص اقدامات وکړي.

د ملي پلان د صادرولو څخه دوه کاله وروسته دولت د دی پلان د بعضو برخو په تطبیق بوخت شو، په ځانګړی ډول د شکنجی د منع په وړاندي د بعضو داخلي قوانینو تعدیل، دداخلی بشري حقونو د څارني د ظرفیت پیاوړتیا او د ملي امنیت ریاست، افغان ملي اردو او افغان ملي پولیسو سره د راپور ورکوني په میکانیزمونو په برخو کی.

د دی راپور د لیکلو په وخت کی د یو نوی *شکنجی منع قانون* او د افغانستان تعدیل شوی د *جزاء قانون* به ملي او د تصویب بهیر یی روان دي. د شکنجی د جرم تعریف کوم چی د ملګرو ملتونو د *شکنجی پر منع کنوانسیون* کی شوي په نوو قوانیونو کی ځاي پر ځاي شوي، او ډیر اغیزمن عدلي تعقیب د شکنجی د مرتکبینو لپاره پکی راغلی. د شکنجی ضد قانون مسوده د شکنجی قربانیانو لپاره د جبران تر لاسه کول تصدیقوی.

پداسی حال کی چی دا پرمختګونو ته ښه راغلاست وویل شو، خو ددغه راپور جوړولو په موده کی نور قانونی اقدامات د شکنجی او ناوړه چلند په وړاندي د ضمانتونو طرح کمزوری شوي، د یادونی وړ ده چی هغه تعدیلات چی د جنائي کړنلارو د قانون په برخه کی راغلي امنیتی کارکونکو ته دا اجازه ورکوی چی د تروریستی جرمونو او د داخلی او خارجی امنیت پر وړاندي د جرمونو مشکوک کسان مخکی لدی چی قاضی ته راوړي تر ۷۰ ورځو پوری ساتلی شي. دغه طرز العملونه به د جګړی اړوند توقیفیانو کله چی دوي د ناوړه چلند تر ټولو زیاد زیامننوکی وي قضایی څارنی محدودوي او دا خطر هم زیاتوی چی ورته ناوړه چلندونه به پیدا نشي[29].

د شکنجی ضد کنوانیسون د ښه تطبیق او د افغانستان د مکلفیتونو د عملی کیدلو لپاره د شکنجی د منځه وړلو په وړاندي ملي پلان برابر شوي. همدارنګه د شکنجی په وړاندی د کنوانسیون پاتی برخی به هم قبلوي، او د شکنجی ضد کنوانسیون اختیاري پروتوکول به امضا او تصویب کړی.

د ۲۰۱۷ کال د آپریل په میاشت کی د وزیرانو شورا د کنوانسیون هغه پاتی برخی او اختیاري پروتوکول تصویب کړ. د شکنجی ضد کنوانسیون د پاتی برخو د قبلولو سره افغانستان دا ومنله چی د شکنجی په ضد د واک کمیټه په هیواد کی د توقیف د ځاینو څخه لیدنه وکړي.

---

[28] د مخالیفونو د بندیانو په وړاندی د شکنجی او ناوړه چلند په هکله د یوناما راپور په اړوند د دولت نظریات ۱۰ آپریل ۲۰۱۷ د یوناما سره په آرشیف کی.

[29] د مدني او سیاسی حقونو په وړاندي کنوانسیون/ د بشری حقونو د کمیټی عمومی تبصره نمبر ۳۵ او برګراف ۳۳

د شکنجې ضد کنوانسیون د اختیاري پروتوکول په منلو به افغانستان یو خپلواک ملي مخنیوی میکانزم رامنځ ته کړی، او دا مسؤلیت لري چې د شکنجې د مخنیوی په وړاندې د ملګرو ملتونو د فرعي کمیټې په همکاري د توقیف ځاینو څخه لیدنه وکړی.

یوناما ددی دواړو پرمختګونو هرکلی کوي، د کنوانسیون او پروتوکول د بشپړ پلي کولو لپاره د خپلي تخنیکي مرستي وړاندیز کوي.

په ملي پلان کی هغه ژمنې چې دولت به د مخنیوي تدابیر پلي کولو په خاطر کوي، د خپلو داخلی نظارت میکانزمونو فعالیت په چوکاټ کی د افغان امنیتي ادارو ته د بندیانو سره د چلند د څارني وړتیا لوړه شوی، د بیلګی په توګه په ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ کال کی د ملي امنیت ریاست ۱۶۴۰۰ توقیفیانو سره مرکي کړي چې په هغی کی ۱۱۸۹ د وهلو ډکولو او ناوړه چلندونو[30] تورونه تر لاسه کړي. یوناما ددی زیاتی څارنی هرکلی کوی، خو خپله اندیښنه پدی ښیي چې دغه میکانیزمونه پوره صلاحیت او خپلواکي نلري ترڅو د شکنجو او ناوړه چلندونو د تورونو په وړاندی مؤثر تحقیقات ترسره کړي. که څه هم ددغو داخلي نظارت میکانزمونو په نتیجه کي د ملي امینت ریاست یو لړ کارونکي انضباطي بندیزونو سره مخ شوي. څو تنو لدوي څخه دا منلی چې د سرغړونو په نتیجه کی محکوم او د عدلي تعقیب لاندي راغلي. د ۱۱۸۹ د تورونو د جملي څخه د ملي امنیت ریاست د تحقیق ټیم ۵۴ تورونه د هغه مرتکیبونه سره چې له دندي ګوښه، تحریري اخطاریه، تقریري اخطاریه، د معاش کمول او یا نور اداري مجازاتو له لاری سزا ورکول شوی، ۵ د ملي امنیت کارکونکي څارنوالي ته معرفي شوي، ۲ یی تر پلټنو لاندي دي او پاتی نور یی د اداری مجازاتو په چوکاټ کی راځی.

پداسی حال کی چې د داخلی نظارت میکانزمونو او روزنو له لاري د شکنجی او ناوړه چلندونو د حل لپاره د پام وړ پرمختګونه راغلي، خو یوناما اندیښنه لري چې د ناوړه چلند د مخنیوي لپاره اداري مجازات دومره مؤثر او قانوني ندي په نسبت د هغه سزا چې داخلی قانون ورکړی. سربیره پردی د نوموړو اقداماتو د جګړو اړونده توقیفانو په شکنجی او ناوړه چلندونو کی کموالي نه راولي کوم چې د یوناما د نظارت په وخت کی راپوری شوي وو.

ددي راپور مهمه موندنه داده چې هغه کسان چې په افغانستان کی د شکنجی، ظالمانه، غیر انساني او د سپکاوی ډک چلندونو قربانیان دي په مؤثره توګه به د یو اغیزمن قضایي او اداري چارو څخه د هغو سرغړونو چې ورسره شوي برخمن نه وي، دا پداسی حال کی ده چې حکومت په ملي پلان کی په ښکاره توګه ویلي چې دوي به هغه کسان سره شکنجه کوي قانوني حساب کوي. د څارنې په موده کی یوناما د ناوړه چلندونو د قربانیانو څخه داسی یو هم په ګوته نکړ چې دوئ ملي قانوني کړنلارو ته لاس رسی لرې وي.

د یوناما مخکنی راپورونه په دوامداره توګه د افغان ملي دفاعي او امنیتی ځواکونو لخوا د شکنجی او نورو ناوړه چلندونو په وړاندي د قضایي حساب نشتون یادونه کړی دی. که څه هم په اوسنی راپور کی بعضی افغان ملي دفاعي او امنیتی ځواکونه د شکنجی او ناوړه چلندونو کړنو په مقابل کی تر عدلي تعقیب څیړنو لاندي راغلي، خو دغه عدلي تعقیبونه په کمه توګه وه.

که څه هم په افغانستان کی بعضو امنیتی ادارو مثبت ګامونه د شکنجی د مخنیوي پخاطر پورته کړي، که په روزنیز پروګرام کی دي اوکه په پالیسیو کي، او داسی داخلي میکانیزمونه یی جوړ کړي چې شکنجی او ناوړه چلندونو تورونه درج او راپور کړي. حکومت نور هم باید تر دی زیات عملي ګامونه د ورته کړنو په مقابل کی پورته کړي، کچیری هغه ددغو تورونو لپاره اغیزمنی پلټني وي، د مجرمینو محاکمه وي، او که د افغان ملي دفاعي او امنیتی ځواکونو د مصؤنیت د کلتور په وړاندي اقدام وي. په همدی خاطر یوناما د لوي څارونوالی د شکنجي ضد کمیسون دفتر هغه ګامونه چې د شکنجی او د ناوړه چلندونو تورونه به په صحیح توګه څیړی هرکلی کوي.

---

[30] د مخالیفونو د بندیانو په وړاندی د شکنجی او ناوړه چلند په هکله د یوناما راپور په اړوند د دولت نظریات ۱۰ آپریل ۲۰۱۷ د یوناما سره په آرشیف کی.

## مشاهدات

دا جوته ده چې د تروریزم په وړاندې دولتونه د لازمو اقداماتو اخیستلو لپاره قانوني دلایل لري، د ترهګرۍ د ستراتیژیو موخه داده چې بشري حقونه، دموکراسي، د قانون حاکمیت او مدني ټولني کمزورې او حکومتونه بې ثباته کړي. نو له همدې امله دولت نه یوازې حق لرې بلکه دنده یې ده چې خپل اتباع او نور د ترهګرو د بریدونو څخه وساتي او د داسې اعمالو مرتکبین عدالت ته راولي.

په دغو هڅو کې په هغه شکل چې د ترهګرۍ ضد هغه هڅې چې تر سره شوې د بشر د حقونو د خوندیتوب لپاره ترسره شوې ډېر مؤثر تمامیدلای شي. د بشر د حقونو قانون یو چوکاټ رامنځته کوي په کوم کې چې د اساسي آزادیو د سرغړونې پرته د ترهګرۍ په وړاندې په اغېزمنه توګه مبارزه کیدلای شي. پداسې حال کې چې د ټولو افغانانو د حقونو څخه ساتنه کوي. د شکنجو او نورو منع شو ناوړه چلندونو استعمال ددې لپاره چې اعتراف ترې واخلي یو خطرناک عمل دی چې د سولې جوړوني هڅو ته پراخ زیان رسوي. د مؤثرو معلوماتو لاسته راوړنو لپاره شکنجه یو غیر دقیق او بې اعتباره وسیله ده، سربیره پردې دا ډول کړنې غیر قانوني او غیر اخلاقي دي بلکه اوږد محاله ثبات هم تخریبوي.

د افغانستان اساسي قانون، د نورو قوانینو او نړیوال قوانینو مکلفیتونه د ناوړه چلند د منع لپاره یو حقوقي چوکاټ لري. دغه چوکاټ به د *تعدیل شوی جزا قانون* او *شکنجې ضد قانون* د معرفي کولو سره به نور هم پیاوړی شي. پداسې حال کې لا هم مهم طرز العملونه پکې کم دي. ددغو قوانینو اغیزمن تطبیق باید دا یقیني کړي چې ناوړه چلندونه ختم، د شکنجو او ناوړه چلندونو مرتکبینو سره حسابدهي وشي. سربیره پردې لکه څرنګه چې دولت تایید کړي نو د شکنجې ضد کنوانسیون او د اختیاري پروتوکول تصویب او تطبیق به د شکنجې په وړاندې د ملګرو ملتونو د فرعي کمیټې په همکارۍ به د شکنجې د منع لپاره د خپلواکه ملي میکانیزم د جوړولو جوګه شي.

د تحقیق لپاره په پراخ ډول د ناوړه تکتیکونو څخه استفاده چې کیداشي په شکنجې او ناوړه چلندونو بدل شي پدې دلالت کوي ترڅو قضا، عدلي تعقیب، او د قانون نافذ کونکو نورو سکتورونو ته پوره توجه وشي، ترڅو په قضا، څارنوالۍ او نورو د قانون نافذ کونکو سکتورونو کې د نړیوالې ټولنې په همکارۍ د پام وړ اصلاحات راشي. پولیس، څارنوالان او د ملي امنیت کارکونکي او تحقیق کونکي باید خپل فعالیتونه د ملي او بین المللی قوانینو په چوکاټ کې ترسره او د شکنجې کولو څخه مخنیوی وکړي. د شواهدو په راغونډولو کې د غوره نړیوالو تجربو پر بنسټ د تحقیق کولو په برخه کې ورزول شي. دغه ډول تخنیکونه د تروریزم مشکوک مرتکبینو او د توقیفیانو د همکارۍ د لاسته راوړني لپاره ډیر ګټور ثابت شوي، او ددې ډیر امکان وي چې د اعتماد وړ استخباراتي معلومات او د نورو شواهدو او مدارکو چې داخلي او نړیوالو قوانینو ته په کتو پرې محکمه فیصله کولای شي راټول کړي.

## سپارښتنې:

د یوې موثقې نظریې په اساس د توقیفیانو د شکنجه کولو هر مرتکب به مسول وګڼل شي او دا کار کولای شي د هغه خلکو کچه راټیټه کړي چې د دا ډول کړنو امر ورکوي او یايي په خپله ترسره کوي. حکومت باید داسې کوټلي ګامونه پورته کړي ترڅو دا څرګنده کړي چې د جنګي مجرمینو سره د زورزیاتي مرتکبین به له قانون څخه مصؤنیت نشي ترلاسه کولاې او قانوني چال چلند به ورسره کیږي.

نو له همدې کبله یوناما د افغانستان حکومت ته لاندیني وړاندیزونه وړاندې کوي:

**ژمنتیا:** افغانستان د حقوقي وجایبو له مخې او د نړیوال بشري او ملي قوانینو په اساس باید د توقیفیانو موجوده شکنجه او ناوړه چلند په سمد ستي توګه ودروي. حکومت باید په واضح توګه خپل چارواکو ته لارښوونه وکړي او ترې وغواړي چې په زور اعتراف او ناوړه چلندونو ټولې ادعاوې وڅیړې او لکه څرنګه چې د افغانستان په اساسي قانون او جزا په قانون کې راغلي باید په جدې توګه په جرمي قضایاو کې شکنجې له لارې شواهد تر لاسه کولو څخه خودداري وکړي.

## حسابدهی:

د افغانستان په ټولو توقیف خونو کي دي هغه دوسیې په چټکه، بې طرفانه او په بشپړ تحقیقاتو وڅیړل شي چې د شکنجې او ناوړه چلند راپورونه یې ورکړل شوي دي. په کوم ځایو کې چې د شکنجې یا ناوړه چلند څخه د کار اخستلو موثق شواهد وجود ولري باید د قانون د پلي کولو مناسب چارواکو ته د څارنې او تحقیق په خاطر وسپارل شي. هر هغه افغان چارواکی او د هغوی آمرین چې د دا ډول کړنو په تر سره کولو او یا هم امر ورکولو کې ښکیل یې مسؤل وګڼل شي، باید د ملي قوانینو له مخې مسول حساب ورسره وشي.

**مؤثري کړنلاري**: د شکنجې قربانیانو ته ملي قانوني کړنلاري اطمیناني کول، په شمول د مساوي او مؤثر عدالت ته لاس رسۍ، د هغوی د زیانونو اړوند مؤثر او جدي رغنده ګامونه اخیستل، او د سرغړونو او جبران ورکولو میکانیزمونو په اړوند معلوماتو ته لاس رسی.

## مخنیوی:

د شکنجې او داسې نور بې رحمه، غیر انساني او د سپکاوي ډک چلند او یا هم جزا ورکوني د کړنو په وړاندې د داختیاري پروتوکول او کنوینسیون په اساس باید یو خپلواک نظارتي او حساب ورکونکي میکانیزم ایجاد کړل شي، تر څو په با قاعده او ناڅاپي توګه له ټولو هغو ځایونو څخه لیدنه او څارنه وکړي چیرته چې افراد له خپلې آزادۍ څخه محروم دي. نوموړي کمیسیون باید په بې طرفانه او پوره شفافیت سره د توقیفیانو په وړاندې د افغان امنیتي ځواکونو د چال چلند څخه لیدنه او څارنه وکړي او په عین حال کې افغان حکومت ته د هغو توقیفیانو سره د چال چلند اصلاح په خاطر مشوری او سپارښتنې ورکړي چې د خپلې آزادۍ له حق څخه محروم کړای شوي وي.

## روزنه او د ظرفیت لوړونه:

د نړیوالو ملګرو او همکارانو په مرسته باید د قضایي اورګانونو روزنیز او ظرفیت لوړنې پروګرام تقویه کړای شي ترڅو د قضایي بخش او قانون پلې کوونکي ادارو ټول کارمندان د نړیوالو بشري قوانینو او مقرراتو په رڼا کې له هغو لازمو منابعو او مهارتونو څخه برخمن شي کوم چې د جنګي مجرمینو د نیولو، څیړنو او محاکمه کولو په برخه کې ورڅخه کار اخستل کیږي.